مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی
د ستراتېژيکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ۲۵۷** (از ۲ الی ۹ سرطان ۱۳۹۷ هـ ش)

**این نشریه مجموعهٔ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی، امنیتی، اقتصادی و اجتماعی هفته‌واری است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار و پالیسی‌ساز از آن استفاده نمایند.**

## آنچه در این شماره می‌خوانید:

مقدمه ........ ۲

### د اردوغان بیا واک ته رسېدل او پر سیمه یې اغېزې

له وخت وړاندې ټاکنې ........ ۴

د ټاکنو پایلې ........ ۵

د اساسي قانون او نظام بدلون ........ ٦

پر نړیوال سیاست او سیمه یې اغېزې ........ ٦

پر افغان-ترک اړیکو یې اغېزې ........ ۷

### کاهش ارزش پول افغانی؛ عوامل و تاثیرات آن

بانکداری مدرن در افغانستان ........ ۹

ارزش پول افغانی ۲۰۰۱-۲۰۱۸م ........ ۱۱

عوامل کاهش ارزش افغانی........ ۱۱

## مقدمه

ترکیه اوسمهال د سیمې بلکې د نړۍ یو پیاوړی او ځواکمن هېواد دی او د سیمې پر سیاستونو او قضیو اغېز ښندلی شي؛ له همدې کبله د ترکیې د تېرې اوونۍ پارلماني او د ولسمشرۍ ټاکنې په نړیواله کچه په دقت سره وڅارل شوې. دا ټاکنې ځکه مهمې وې، چې د ۲۰۱٦ له ناکامې کودتا او بیا د دغه هېواد په اساسي قانون کې له ژورو بدلونونو وروسته لومړۍ ځل سرتاسري ټاکنې وې.

د ترکیې اسلامپالې عدالت او پراختیا ګوند بیا هم په دغو ټاکنو کې مخکښ راووت او رجب طیب اردوغان ته زمینه برابره شوه، چې خپله ۱۵ کلنه واکمني نوره هم وغځوي. اردوغان له ۲۰۰۲ کال راهیسې دوه ځله د ترکیې لومړی وزیر او په تېره دوره کې د دغه هېواد ولسمشر و. د ترکیې په سیاسي ډګر کې د نوموړي رغند رول او د دغه هېواد اقتصادي پیاوړتیا هغه لاملونه دي، چې د ده ځلورم ځل بریا ته یې زمینه برابره کړه. خو دا چې د دغه هېواد راتلونکې اسلامپالې حکومت به څپله پر ترکیه، اسلامي نړۍ او نړیوال سیاست څه اغېزې ولري، هغه موضوع ده چې د اوونیز تحلیل په لومړۍ برخه کې یې په اړه شننه لولئ.

د تحلیل په دویمه برخه بیا د بهرنیو اسعارو پر وړاندې په بې‌ساري ډول د افغانۍ د ارزښت ټیټېدو او د خلکو پر ژوند یې د اغېزو په اړه لولئ. دا مهال یو ډالر د ۷۳ افغانیو په بدل کې تبادله کېږي، چې د توکو پر نرخونو یې خورا زیات اغېز لرلی دی. که څه هم د افغانۍ ارزښت ټیټېدل په نړیواله کچه د ډالر د لوړېدو له کبله هم ده؛ خو نور کوم لاملونه دي چې د افغانۍ پر ارزښت یې منفي سیوری غوړولی دی؟ د تحلیل په دې برخه کې مو هڅه کړې، چې دا او ورته پوښتنې ځواب کړو.

# د اردوغان بیا واک ته رسېدل او پر سیمه یې اغېزې




د جون په ۲۴مه په ترکیه کې د ولسمشرۍ او پارلمان ټاکنې وشوې، چې په نړیواله کچه وځارل شوې او د دغه هېواد لپاره هم د بېلابېلو لاملونو له کبله، د تېرو څو لسیزو په پرتله برخلیک ټاکونکې او خورا مهمې وې.

د ترکیې د ولسمشرۍ په ټاکنو کې د دغه هېواد څواکمن مشر رجب طیب اردوغان بیاځلې د راتلونکو پینځو کلونو لپاره د ترکیې ولسمشر شو او ترځنګ یې په پارلماني ټاکنو کې هم د نوموړي اړوند ګوند ډېرې څوکۍ وګټلې.

د ترکیې ټاکنې دا ځل له دې کبله ډېرې مهمې او د نړیوالو د پام وړ وې، چې رجب طیب اردوغان پکې د څلورم ځل لپاره د دغه هېواد مشري ترلاسه کوله؛ د نړیوال سیاست هغه څېره چې ترکیه یې په تېره یوه‌نیمه لسیزه کې د اقتصادي او سیاسي ثبات په لوري بېولې، بلکې د نړۍ او په تېره بیا اسلامي نړۍ او منځنې ختیځ په قضیو کې یې هم اغېزناک رول لوبولی دی.

په دغه هېواد کې د اساسي قانون او حکومتي نظام بدلون، له مودې وړاندې ټاکنې او له لا زیاتو واکونو سره د اردوغان بیا واک ته رسېدل او پر سیمه او په تېره بیا افغان-ترک اړیکو یې اغېزې، هغه موضوعات دي چې دلته یې په اړه شننه لولئ.

## له وخت وړاندې ټاکنې

ټاکل شوې وه په ترکیه کې د تېرې اوونۍ ټاکنې د ۲۰۱۹ کال په نوامبر کې وشي؛ خو ولسمشر اردوغان د روان میلادي کال (۲۰۱۸) په اپرېل کې، د دغو ټاکنو نېټه، له ټاکل شوي وخت یو نیم کال مخکې (د ۲۰۱۸ کال د جون ۲۴مه) وټاکله.

په ترکیه کې د ۲۰۱٦ کال په اوړي کې له ناکامې کودتا وروسته بېړنی حالت اعلان شوی و او د اردوغان له دغې پرېکړې سره د دغه هېواد پارلمان بېړنۍ حالت د دریو نورو میاشتو لپاره هم تصویب کړ، چې له مخې یې ټاکنې هم په بېړني حالت کې وشوې. د ټاکنو رامخته کولو څو مهم لاملونه لرل:

**لومړی:** د سیمې خراب او په بېړه بدلېدونکی وضعیت، په ځانګړې توګه د ترکیې د ګاونډیو هېوادونو سوریې او عراق د وضعیت پېچلتیا او په ترکیه یې اغېزې.

د اردوغان د ګوند په اند، ترکیې په داسې سیمه کې پرته ده، چې اوسمهال له زیاتو سیاسي، نظامي، اقتصادي او امنیتي ګواښونو سره مخ سیمه ده او له دغو ګواښونو سره مقابله یوه ځواکمن او متمرکز حاکم نظام ته اړتیا لري.

**دویم:** د ترکیې اقتصادي وضعیت ته وړپېښ احتمالي ګواښونه او په تېره بیا د ترکي روپۍ (لېره) د ارزښت ټیټېدل.

د ترکیې اقتصاد که څه هم په ۲۰۱۷ کال کې ۷،۴ سلنه اقتصادي وده لرله، خو د تورم او بې‌کارۍ د کچې زیاتوالي یې اقتصاد ته ګواښ پېښ کړی و. په ترکیه کې سیاسي وضعیت د دې لامل شو، چې په ۲۰۱۷ کال کې د دغه هېواد پولي واحد د ډالر په مقابل کې خپل ارزښت له لاسه ورکړي او د کال په وروستیو کې د یوه ډالر بیه ۳،۹۴ لېرو ته ورسېږي. په روان کال کې بیا د ترکیې پولي واحد په بې‌ساري توګه ټیټ شو. د ۲۰۱۸ کال له پیله تر مې میاشتې پورې ترکي لېرې خپل ۱٦ سلنه ارزښت له لاسه ورکړ، چې بالاخره د مې په ۲۳مه یوازې په یوه ورځ کې د ډالر پر وړاندې ۳ سلنه ټیټه شوه او یو ډالر په ۴،۸ لېرې شو. له همدې کبله ترکي ولسمشر له خلکو وغوښتل چې خپلې بهرنۍ پیسې دې په ملي پیسو بدلې کړي.

له همدې کبله د ترکیې حکومت وېتېیله چې له وخت مخکې ټاکنو سره به شونې شي، چې د دغه هېواد وضعیت له ابهام څخه د ارامۍ او ثبات په لور ولاړ شي، نړیوال بازارونه به دغو ټاکنو ته مثبت غبرګون وښیي او بهرنۍ پانګونې به پکې زیاتې شي.

**دریم:** د ۲۰۱٦ کال ناکامه کودتا او وروسته د ۲۰۱۷ کال د اپرېل د ۱٦مې د ټولپوښتنې له لارې د اساسي قانون بدلون او شرایطو ته په کتلو سره، په تېره بیا د مخالفو ګوندونو ورځ تر بلې زیاتېدونکو ګواښونو له کبله، د دغو بدلونونو ژر عملي کېدل.

## د ټاکنو پایلې

له وخت مخکې ټاکنو په اړه ګڼ نظرونه موجود وو، چې ځینو دا د اردوغان د بیاځلي بریا او ځینو یې احتمالي ناکامۍ لامل بللې. په وروستیو میاشتو کې ځینو نظرپوښتنو ښوده، چې اوسنی حاکم ګوند به له وخت مخکې ټاکنو کې بریالی راووځي؛ څکه داسې انګېرنې وې، چې که اردوغان دا ټاکنې ونه ګټي، دغه هېواد به یو بشپړ بدل وضعیت تجربه کړي او تر ډېره به د سیاسي او اقتصادي بې‌ثباتۍ په لور ولاړ شي.

که څه هم ترکیه له نژادي او دیني پلوه یو وېشل شوی هېواد دی؛ خو له یوې خوا د اردوغان تېرې ۱۵ کلنې واکمنۍ او له بلې خوا په دغه هېواد کې د ۲۰۱٦ کال له ناکامې کودتا وروسته د نوموړي اقداماتو ته په کتلو سره، له وړاندې په دغو ټاکنو کې د څلورم ځل لپاره د اردوغان د بریا تمه قوي وه.

له ټمې سره سم، رجب طیب اردوغان په سلو کې شاوخوا ۵۳ سلنه رایې وګټلې او ټاکنیز سیال یې محرم اینجه چې د خلکو د جمهوري‌پال ګوند له‌خوا نوماند و، په سلو کې ۳۱ رایې ترلاسه کړې. له بله پلوه، په پارلمان کې هم د عدالت او پراختیا ګوند تر نورو ګوندونو ډېرې (۴۲ سلنه) رایې وګټلې او له ٦۰۰ څوکیو څخه یې ۲۹۵ څوکۍ خپلې کړې. عدالت او پراختیا ګوند به بیا هم د مطلق اکثریت لپاره د باغچلي په مشرۍ ملي حرکت ګوند (MHP) سره ایتلاف ته دوام ورکوي، چې له مخې یې غوڅ اکثریت څوکۍ (۳۴۳) د دوی په برخه کېږي. په دې توګه اردوغان کولی شي، راتلونکې پنځه کاله له کوم جدي مقاومت او مخالفت پرته د یوه څواکمن ولسمشر په توګه واک وچلوي.

د ترکیې د ټاکنو اداري د ۵٦،۳ میلیونه تنو د ګډون اټکل کړی و؛ خو په ټولیز ډول پکې ۵۹،۳ میلیونه تنو خپلې رایې وکارولې او په ټاکنو کې د خلکو د ګډون کچه ۸۷ سلنه وه. په ټولیز ډول دا ټاکنې رڼې ترسره شوې او د اردوغان مهم سیال او د خلکو جمهوري‌پال ګوند مشر محرم اینجه خپله ماتې ومنله او د ټاکنو پر پایلو یې اعتراض ونه کړ.

## د اساسي قانون او نظام بدلون

دا ټاکنې اصلا په دغه هېواد کې د نظام د بدلون په معنا وې او له همدې کبله خورا مهمې هم وې. په ترکیه کې د ۲۰۱۷ کال د اپرېل میاشتې ټولپوښتنې په اساسي قانون کې ۱۸ بدلونونه راوړل، چې مهم یې د ولسمشر واکونه زیاتېدل، د ولسمشر دوره له ۴ کلونو څخه ۵ کلونو ته زیاتېدل او داسې نور وو. دا له کابو یوې پېړۍ راهیسې او ترکیه کې د نوي نظام له جوړېدو راوروسته، ستر بدلون و.

د اساسي قانون د بدلون په ټولپوښتنه کې، چې ۵۱ سلنه خلکو «هو» رایه وکړه، د لومړي وزیر څوکۍ له منځه ولاړه او د ولسمشر واکونه زیات شول. اردوغان وغوښتل، چې د سیمې وضعیت او د ترکیې اقتصادي حالت ته په کتلو سره عاجل تصمیمونه ونیسي او هېواد یې له بېړني حالته راووځي.

د اساسي قانون او له پارلماني څخه ریاستي ته د دغه هېواد د نظام بدلون اردوغان ته دا زمینه برابروي، چې په ۲۰۲۳ کې بیا نوماند شي او که ټاکنې وګټي تر ۲۰۲۸ پورې په واک کې پاتې شي. همدا راز، نوموړي ته واک ورکوي، چې دولت په خپله تشکیل کړي او پر قضایي ارګان هم څارنه وکړي.

د ترکیې د حاکم ګوند په اند، د دغه بدلون اساسي انګېزه، دغه هېواد ته د اقتصادي ثبات راوړل وو؛ که څه هم مخالفین یې دا ډول نظام استبدادي او دیکتاتورانه بولي. له همدې کبله، د ټاکنو له پایلو وروسته د اردوغان مهم سیال که څه هم د ټاکنو پایلې ومنلې؛ خو اندېښنه یې وښوده چې ترکیه له دې وروسته د یوه کس د مطلق حاکمیت له خطرناک وضعیت سره مخ ده.

## پر نړیوال سیاست او سیمه یې اغېزې

**ترکیه:** دا ټاکنې او د اردوغان بیا واک ته رسېدل به د سیاسي او امنیتي ډګرونو ترڅنګ، د ترکیې پر اقتصادي او سیاسي وضعیت مثبتې اغېزې وښندي؛ ځکه د ټاکنو د پایلو اعلان سملاسي د ترکیې «لیره» چې د روان میلادي کال له پیل راهیسې یې د ډالر په مقابل کې ۲۰ سلنه ارزښت له لاسه ورکړی و، بېرته په لوړېدو شوه او یوازې په اسیایي بازارونو کې یې په یوه ورځ کې یو سلنه ارزښت لوړ شو. د جاپان اقتصادي ډلبندۍ اژانس هم په خپل وروستي راپور کې وویل، چې له ټاکنو وروسته د ترکیې په داخلي سیاست کې د ابهام کمېدل به د ترکیې پر اقتصاد مثبتې اغېزې وکړي.

**اسلامي نړۍ:** ترکیه له ۲۰۰۲ کال راهیسې، چې د عدالت او پراختیا ګوند پکې واک ترلاسه کړی، د اسلامي نړۍ د رهبرۍ داعیه مخته وړي او د اسلامي نړۍ په قضایاوو کې مخکښ رول لري. له همدې کبله به د ترکیې وروستۍ ټاکنې او د اردوغان بیا واک ته رسېدل د اسلامي نړۍ پر وضعیت هم پام‌وړ اغېزې ولري. ترکیه به په راتلونکو کلونو کې د لا ډېر اسلام‌پالي حکومت شاهده وي او د اسلامي نړۍ د مشرتابه رول به یې نور هم برجسته کړي، چې ښایي له همدې کبله به یې له لوېدیځ سره د اړیکو ترینګلتیا هم زیاته شي.

له بله پلوه، ترکیه اوسمهال په سیمه‌ییزو قضیو کې هم په جدي توګه ښکېل ده او د سوریې او عراق په تړاو به یې اوسنی دریځ نور هم پیاوړی شي. بیا به هم د بشارالاسد لرې کېدل وغواړي او د سوریې کډوالو ته به له ژمنو سره سم، لا ډېر پام وکړي. دغه راز د قطر او ځو عربي هېوادونو په بحران کې به هم د قطر په ګټه خپل پخوانی سیاست تعقیب کړي.

**نړیوال سیاست:** له امریکا او اسرائیلو سره د ترکیې د اړیکو خړپړتیا په نړیوال ډګر کې د ترکیې لپاره مهمه ننګونه او سخته دوسیه ده، ځکه په تېرو میاشتو کې یې اړیکې د بیت المقدس د قضیې له کبله د بل هر وخت په پرتله ترینګلې شوې دي. اردوغان، بیت المقدس ته د امریکا د سفارت لېږدولو له تصمیم سملاسي وروسته د اسلامي نړۍ سرمشریزه راوغوښته او په ډېره توندە لهجه یې امریکا هم د اسرائیلو په «جنایاتو» کې شریکه وبلله.

بیا هم داسې ښکاري، چې ترکیه به تر خپله وسه هڅه وکړي، چې خپل سیاسي او اقتصادي ثبات ته د احتمالي ګواښونو دفع کولو په موخه، له دغو هېوادونو سره د اړیکو د بحران ژوربدو مخنیوی وکړي. په بل اړخ کې که څه هم له روسیې سره د سوریې په قضیه کې اختلافات لري؛ خو د لوېدیځ په مقابل کې به د خپل دریځ د پیاوړتیا لپاره له روسیې سره بیا هم ښې اړیکې وپالي.

## پر افغان-ترک اړیکو یې اغېزې

په ترکیه کې به دا ځل د تېر په پرتله ځواکمن اسلام‌پالی حکومت جوړ شي. له همدې کبله به په افغانستان کې هم خپل رول او نفوذ ته ارزښت ورکړي. که څه هم په افغانستان کې د ازبکانو او ترکمنانو شتون او د ولسمشر له تبعید شوي مرستیال جنرال دوستم څخه د دغه هېواد ملاتړ هغه قضیه ده، چې د دواړو هېوادونو پر اړیکو اغېزې لرلی شي؛ خو ترکیه به اوسمهال هڅه وکړي چې دا قضیه په سم ډول هواره شي او جنرال دوستم هېواد ته راوګرځي.

دغه راز ترکیه به د خپل وضعیت له ښه کېدو سره داسې مهال د افغانستان او پاکستان د اړیکو په ښه کولو کې هم خپل رول ولوبوي، چې پاکستان پکې تر نړیوالو فشارونو لاندې دی. په دې تړاو له وړاندې کابل ته د ترکیې د لومړي وزیر د راتګ پر مهال، په انقره کې د افغانستان-پاکستان-ترکیې د درېاړخیزې غونډې په جوړولو هم هوکړه شوې ده. پای

# کاهش ارزش پول افغانی؛ عوامل و تاثیرات آن



کاهش ارزش واحد پول و بی‌ثباتی آن در برابر اسعار خارجی در یک کشور، اثراتی بالای نرخ مواد داخلی و خارجی در آن کشور می‌گذارد و در اقتصاد آن حایز اهمیت بیشتر می‌باشد.

افغانستان که با چالش‌های بی‌ثباتی سیاسی و امنیتی روبه‌رو است، از جمله کشورهای به شمار می‌رود که پول آن از ثبات لازم برخوردار نیست و وضعیت اقتصادی در کشور نیز همواره به دلیل وضعیت ناگوار سیاسی و امنیتی در حالت بدی قرار داشته است.

ارزش پول افغانی از چند سال به این‌سو، به خصوص در زمان حکومت وحدت ملی سیر نزولی داشته و در حال حاضر به پایین‌ترین حد خود رسیده است. در کل، ارزش افغانی در مقابل اسعار خارجی بخصوص دالر امریکایی، بعد از چاپ پول جدید در سال ۲۰۰۳ میلادی، تا این اندازه کاهش نیافته بود. چیزیکه باعث به وجود آمدن مشکلات در عرصهٔ اقتصادی گردیده و زندگی مردم را زیر سایهٔ خود در آورده است.

این‌که سیستم بانکداری مدرن در افغانستان چه زمانی آغاز شد و اکنون در چه وضعیتی قرار دارد، ارزش پول افغانی در طول ۱۷ سال گذشته در چه وضعیتی بوده و کدام عوامل باعث کاهش ارزش افغانی شده؟ پرسش‌های اند که در این تحلیل مورد بحث قرار گرفته است.

## بانکداری مدرن در افغانستان

قبل از تأسیس بانک و به میان آمدن سیستم مدرن بانکداری در افغانستان، سرمایه و مال دولت در خزانه‌های دولتی و سرمایه‌های مردم از طرف مردم با خود شان محافظت می‌شد. با آنکه در آن زمان تعداد کمی صرافان نیز در افغانستان وجود داشتند، اما در بین مردم بنام «سود خور» و «حرام خور» یاد می‌شدند و مردم دلچسپی معامله و تبادلهٔ پول یا اشیای قیمتی با آن‌ها را نداشتند.

این روند تا اواخر دههٔ سوم قرن بیستم ادامه داشت، اما با تأسیس نخسین بانک بنام «د افغان ملی بانک» در سال ۱۹۳۳م و در ادامهٔ آن با تأسیس «د افغانستان بانک» در سال ۱۹۳۹م، افغانستان نیز پا به عرصهٔ نظام اقتصادی و بانکداری مدرن گذاشت.

در اوایل «د افغان ملی بانک» به عنوان یگانه بانک در افغانستان، هم وظایف بانک مرکزی و هم وظایف بانک تجاری را به پیش می‌برد، اما با تأسیس «د افغانستان بانک»، چاپ و نشر پول و سایر وظایف بانکداری دولتی از «د افغان ملی بانک» به این بانک واگذار گردید.

تا سال ۲۰۰۱م و سقوط رژیم طالبان در افغانستان، رژیم‌های مختلف شکل و نوع پول افغانی را به میل خود تغییر دادند. حتی برخی از احزاب جهادی یا قومندانان جهادی بانک‌نوت‌های خاصی به خود چاپ و توزیع کرده بودند؛ ولی این وضعیت پس از سال ۲۰۰۱م، با روی‌کار آمدن نظام جدید در افغانستان وارد مرحلهٔ جدید گردید.

در سال ۲۰۰۳م بانک‌نوت‌های جدید افغانی به ارزش حذف سه صفر افغانی سابق بنام (AFN) با کود (ISO 4217) در کشور مورد استفاده قرار گرفت. علاوه بر بانک‌های دولتی چندین بانک خصوصی داخلی و خارجی نیز در افغانستان آغاز به فعالیت کردند.

با آن‌که از ایجاد نخسین بانک و آغاز بانکداری مدرن در افغانستان حدود ۸۵ سال می‌گذرد، اما افغانستان هنوز هم از جمله کشورهای است که هیچ‌گاهی صاحب رشد اقتصادی پایدار و یک نظام مالی منسجم، معیاری و قابل اعتماد مردم و کشورهای جهان نشده است.

## ارزش پول افغانی ۲۰۰۱-۲۰۱۸م

افغانستان کشوری است که در طول تاریخ به دلیل چالش‌های سیاسی و امنیتی، اقتصاد آن همواره مورد بی‌توجهی حکومت‌های وقت قرار گرفته است. سیاست‌های غیرمؤثر حکومت‌ها باعث شده که اقتصاد کشور از رشد لازم باز بماند و پول این کشور نیز ارزش خود را حفظ کرده نتواند.

بعد از سال ۲۰۰۱م و تشکیل نظام جدید در افغانستان تا روی‌کار آمدن حکومت وحدت ملی در طول نزدیک به یک‌ونیم دهه گذشته، ارزش افغانی در مقابل یک دالر امریکایی از ۴۶ الی ۵۷ افغانی بود که این ثبات نسبی نیز بیشتر به دلیل حضور نیروهای خارجی، جامعۀ جهانی، سازمان‌ها، موسسات و انواع مختلف اداره‌های خارجی در کشور بود.

در زمان مبارزات انتخابات ریاست جمهوری سال ۲۰۱۴م، ارزش افغانی در مقابل یک دالر امریکایی در طول چند ماه به گونۀ اوسط ۵۷,۲۲ افغانی بود، اما بعد از تشکیل حکومت وحدت ملی تا آخر ۲۰۱۴م ارزش افغانی در مقابل یک دالر امریکایی ماهانه به گونۀ اوسط به ۵۸,۱۸ درصد رسید. در اوایل سال ۲۰۱۵م دوباره ارزش افغانی در مقابل دالر خوب شد، چنانچه در ماه جنوری این سال ارزش پول افغانی در مقابل یک دالر ۵۷,۷٦ افغانی و در ماه فبروری ۵۷,۴ افغانی بود.

پس از دو ماه نخست سال ۲۰۱۵م، پول افغانی ارزش خود را در مقابل دالر به شدت از دست داد و در اواخر همین سال ارزش یک دالر امریکایی در مقابل افغانی به ٦۷,۲۵ افغانی رسید. این وضعیت در سال ۲۰۱٦م و ۲۰۱۷م نیز به گونۀ بطی ادامه داشت و اکنون که در اواخر نیمه‌ی نخست سال ۲۰۱۸م قرار داریم، ارزش یک دالر امریکایی در مقابل افغانی به ۷۳،۳۰ افغانی رسیده است.

## عوامل کاهش ارزش افغانی

در پایین آمدن ارزش پول افغانی، در کل چند عامل ذیل نقش دارد:

**بلند رفتن ارزش دالر در بازار های جهانی**؛ در کنار سایر عوامل، در حال حاضر پول دالر در برابر تمام پول‌های جهان بلند رفته و این وضعیت بالای ارزش پول افغانی نیز تاثیر گذاشته است. به گونۀ مثال، چندی قبل بانک مرکزی افغانستان اعلام کرد که یک روپیه پاکستانی ارزشش را در مقابل دالر ٦ درصد، یک روپیه

هندی نیز ۴ درصد و یک ریال ایرانی ۱۲ درصد ارزش خود را در مقابل دالر از دست داده، در حالکیه قیمت افغانی فقط ۴ درصد کاهش یافت است.

**شرایط خراب اقتصادی**؛ با آن‌که در زمان حکومت وحدت ملی شماری از پروژه‌های زیربنایی تکمیل و یا هم افتتاح گردید؛ عواید حکومت بیشتر شد که در آن تا اندازهٔ بیشتر وضع مالیه بر کردیت مصرفی شبکه‌های مخابراتی نقش داشت؛ اما در کل وضعیت اقتصادی کشور نسبت به یک‌ونیم دههٔ گذشته روز به روز خراب‌تر گردید؛ میزان بی‌کاری به اوج خود رسید و صدها هزار جوان افغان از طریق راه‌های خطرناک راهی اروپا شدند؛ کشور با فرار سرمایه‌ها روبه‌رو شد و رشد اقتصادی کشور نیز کم شد.

**شرایط خراب امنیتی و سیاسی**؛ در حال حاضر مهم‌ترین مانع در برابر رشد اقتصادی و ثبات در ارزش پول افغانی، معضل ناامنی‌ها، تشدید روزافزون جنگ و عدم موجودیت ثبات سیاسی در افغانستان پنداشته می‌شود. افغانستان در حال حاضر در بدترین وضعیت امنیتی و سیاسی قرار دارد؛ اختلافات داخلی میان سیاسیون کشور و تشدید جنگ از سوی گروه‌های مخالف مسلح دولت از جمله مواردی اند که عرصهٔ اقتصادی کشور را زیر سایهٔ خود در آورده است. بنابراین، تا زمانی که وضعیت امنیتی و سیاسی افغانستان بهبود نیابد، بیرون رفت از معضل کنونی اقتصادی نیز دشوار خواهد بود.

**ارزش مصنوعی پول افغانی**؛ یکی از دلایل مهم دیگر کاهش ارزش پول افغانی، سیاست به لیلام گذاشتن دالر در بازار است. این سیاست با آنکه جریان پول افغانی در داخل کشور و از طریق آن کنترول قیمت‌ها و نرخ تبادلهٔ افغانی در مقابل اسعار خارجی بخصوص دالر را تا اندازه‌ی کنترول می‌کند؛ اما عملا ارزش پول افغانی را برای کوتاه‌مدت و بطور مصنوعی حفظ می‌کند.

**کاهش شمار نیروهای خارجی در کشور**؛ پس از سال ۲۰۱۴م با خروج بخش بزرگ نیروهای خارجی، عرضه دالر در بازارهای افغانستان نیز کاهش یافت، چون قبل از سال ۲۰۱۴ ده‌ها هزار سرباز خارجی در افغانستان حضور داشتند و برای هزینه‌های گزاف نظامی نیازمند وارد کردن دالر به افغانستان بودند. این وضع ارزش افغانی را در یک حالت نسبتاً ثابت حفظ کرده بود؛ اما با کاهش عرضه دالر در باراز، ارزش افغانی نیز رو به کاهش نهاد.

**استفاده از اسعار خارجی در مبادلات**؛ گرچند انجام مبادلات با اسعار خارجی بر اساس قانون «د افغانستان بانک» جرم پنداشته می‌شود؛ اما در حال حاضر به خصوص در مناطق مرزی کشور انجام بیشتر مبادلات و

معاملات به اسعار خارجی (دالر، کلدار و تومان) صورت می‌گیرد، در حوزۀ غربی تومان ایرانی، در شرق و جنوب کلدار پاکستانی و در کل معاملات بزرگ اقتصادی و تجارتی در سراسر کشور به دالر صورت می‌گیرد که این وضعیت خود باعث کاهش ارزش پول افغانی شده است؛ چون تقاضای پول افغانی کم می‌شود و ارزش آن در باراز کاهش می‌یابد.

با این هم، توجه به وضع و جمع‌آوری شفاف مالیات بر مواد وارداتی، حمایت از تولیدات داخلی و ترویج پول افغانی در مبادلات بزرگ اقتصادی می‌تواند تا حدی روی ارزش پول افغانی تاثیر مثبت داشته باشد؛ اما در حال حاضر با در نظرداشت وضعیت سیاسی و امنیتی کشور و عدم توجه جدی دولت به ارزش پول افغانی، چنان می‌نماید که ارزش افغانی در جریان این سال روبه کاهش خواهد بود.

در کنار این احتمال، در حال حاضر نیز کاهش ارزش پول افغانی باعث بلند رفتن نرخ مواد خوراکی، نفت، گاز و سایر مواد مورد ضرورت زنده‌گی روزمره در کشور شده و مردم را به مشکلاتی در این عرصه مواجه کرده است. در طول چند ماه گذشته قیمت یک لیتر تیل پترول از ۴۴ افغانی به ۵۲ افغانی، یک کیلو گاز مایع از ۴۳ به ۵۰ افغانی، یک بوجی آرد قزاقی ۴۹ کیلویی از ۱۰۵۰ افغانی به ۱۱۵۰ افغانی و قیمت یک کیلو چای سبز از ۲۷۰ افغانی به ۳۰۰ افغانی افزایش یافته است. بنابراین، برای کنترول و بهبود این وضعیت نیاز به اقدامات جدی دولت دیده می‌شود.

پایان

**ارتباط با ما:**

**ایمیل:** info@csrskabul.com - csrskabul@gmail.com

**وب سایت:** www.csrskabul.com -- www.csrskabul.net

**شمارۀ تماس دفتر:** (+93) 202564049 - (+93) 784089590

**محقق ارشد:** حکمت الله ځلاند (+93) 775454048 hekmat.zaland@gmail.com

**محقق و مسؤول تحلیل هفته:** ضیاءالاسلام شیرانی (+93) 764747548 zi.shirani@gmail.com

**محقق و مسؤول نشر تحلیل هفته:** احمدشاه راشد (+93) 784249421 ahmadshahr786@gmail.com